مجله علمی سلام
Salam Academic Journal
Journal Homepage: https://www.resaearch.salam.edu.af
سال هشتم، دور دوم، شماره ۳، بهار سال ۱۴۰۲هـ ش

# د مبارک آیت {وَقَرنَ فِيِ بُيُوتِكُنَّ} راجح تفسير

# The Preferred interpretation of the Verse {وَقَرنَ فِيِ بُيُوتِكُنَّ}

DOI: https://doi.org/10.5281/zenodo.16787888

دکتور محمد نعیم جلیلی[1]
عبدالملک ثاقب[2]

ISSN: 3078-9575 (Print) ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۰۵/۳۶ تعداد صفحات: ۲۲ از صفحه ۳۴ تا ۵۵

## لنډیز

په دې لنډه څېړنه کې د سورت احزاب د (۳۳) ایت د تفسیر په اړه د یوې ناسمې انګېرنې د سمونې هڅه شوې ده، یو شمېر هغه وګړي چې متشابه نصوص (کوم نصوص چې د یو څخه د زیاتو انګېرنو او تفسیرونو احتمال لري) د محکماتو او اسلامي امت د عامو علماو د اتفاقي دریځ په رڼا کې نه فهموي، دوی د دې مبارک ایت لومړی برخه {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } د ایت د دویمې برخې څخه په مستقل ډول فهموي، او دویمه برخه چې د دې جملې د تفسیر حیثیت لري له دې څخه بېلوي چې په نتیجه کې یې د دې مبارک ایت په تفسیر کې په نا سمه انګېرنه کې پرېوزي، موږ په دې څېړنه کې په ډېر لنډ ډول د دې ناسمې انګېرنې او تفسیر د سمونې هڅه کړې ده، او هغه په دې ډول چې د اسلامي امت د علماو عام دریځ دا دی چې د مباحو کارونو لپاره په شرعي پرده کې د مسلمانو ښځو د کورونو څخه بهر وتل مباح کار دی، همدا خبره د احادیثو څخه هم څرګنده ده، او د فقهاو او د احادیثو د شارحینو د تشریحاتو څخه هم څرګنده ده، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو له تعامل څخه هم همدا معلومېږي، نو دا ټول په دې دلالت کوي چې د ایت لومړی جمله له دویمې جملې څخه جلا کول او دواړه په مستقل ډول فهمول ناسم کار دی.

نو له دې امله د {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } سم تفسیر هغه دی چې ډېرو مفسرینو خپل کړی دی، او هغه دا چې په ایت کې دویمه جمله { وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىَ} د لومړی جملې بیان دی، نو د ایت معنی به دا وي چې «ای مسلمانو ښځو[3]! په کورونو کې قرار پاتې شئ، په دې معنی چې د لومړي جاهلیت د راڅرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ» هدف دا دی چې د تیر جاهلیت په څېر را ښکاره کېدل مسلمانو ښځو ته نا روا دي، خو که ښځې د تیر جاهلیت په څېر نه را څرګندېږي، د هغوی حکم په دې ایت کې نه دی یاد شوی[4]، د دوی حکم بیا په نورو دلائلو

---

[1]. د سلام پوهنتون په شرعیاتو پوهنځي کې د علمي کدر غړی، 0772107170، mnjalily@gmail.com

[2]. د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي رئیس، 0789698395، abdulmaliksaqib95@gmail.com

[3]. په هغه صورت کې چې د دې مخاطبې ټولې مسلمانې ښځې وي، او دا خطاب یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی نه وي.

[4]. دا د هغه چا له نظره چې مفهوم مخالف ته په قرآن او سنت کې اعتبار نه ورکوي، لکه حنفي علماء.

باندې ثابت دی چې دا یو روا او مباح کار دی، نو په پای کې دا ویل شوي دي، چې د دی ایت د نا سم تفسیر پر بنسټ د ټولنې یوه لویه برخه د خپلو حقوقو څخه محروموول درست کار نه دی، خو دا سمه خبره ده چې ښوک د شرعي آدابو د رعایت څخه پرته له کور څخه بهر وځي هغوی باید متوجه کړای شي

**کلیدي کلیمي: د مبارک آیت، وَقرنَ فِي بُيُوتِكُنَّ، راجح، تفسير**

## مقدمه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين وبعد.

موږ د یوې مسلمانې ټولنې په توګه په دې ایمان لرو چې د ژوند په ټولو اړخونو کې په هغه څه التزام د دنیا او آخرت د کامیابۍ لامل ګرځي چې د الله تعالی له لورې د شریعت په توګه موږ ته راکړ شوي دي، او هغه څه چې د شریعت په توګه رالېږل شوي دي هغه موږ سره یا د نصوصو په شکل کې شتون لري، او یا هم د دې نصوصو څخه د استنباط په شکل کې علماو تدوین کړي دي.

کوم احکام چې په نصوصو کې شتون لري هغه هم په دوه ډوله دي لومړی هغه نصوص چې امت یې په فهم باندې اجماع لري، دا ډول نصوص محکمات بلل کېږي، او په اړه یې هیڅ ډول اختلاف درست نه دی، د بېلګې په توګه د الله تعالی دا مبارک قول چې فرمایي: {وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ} [البقرة: 43] په دې مبارک ایت کې د «الصلاة» او «الزكاة» په معنی د امت اجماع شتون لري چې له دې همدا ځانګړي عبادتونه مراد دي چې هر مسلمان یې سرته رسوي، نو له دې امله له دې څخه بل معنی اخیستل د تحریف معنی لري.

دویم ډول نصوص هغه دي چې د فهم په تعیین او په تفسیر کې یې د امت د علماو ترمنځ د نظرونو تعدد وجود ولري، او د معنی په تعیین کې یې د علماو ترمنځ اختلاف شتون ولري، دا ډول نصوص د اجتهاد یو میدان دی، د دې ډول نصوصو د معنی او مراد ټاکل او مشخص کول، څېړنې او تحقیق ته اړتیا لري، په دې کې شک نشته چې هیڅ ښوک د دې حق نه لري چې د دې ډول نصوصو یو فهم پر ټولو خلکو تحمیل کړي، ځکه د دې ډول نصوصو په فهم کې هیڅوک هم حق په خپل احتکار کې نه لری، او نه د دې ادعا کولی شي، مګر هر ښوک د دې حق لري چې د دلائلو په رڼا کې خپل نظر او د نصوصو څخه خپل فهم د خلکو سره شریک کړي، او د خپل فهم د ترجیح ټول دلائل په پوره قوت سره د علماو او ټولو خلکو په مخ کې کېږدي، د بېلابېلو نظرونو د پرتلې نه وروسته ملت او په ټولنیزو چارو کې چارواکي هغه نظر غوره او انتخاب کړي چې د شریعت د کلي فهم او د دین د مقاصد سره برابر او د ټولنې او خلکو د حالاتو او ظروفو رعایت په کې شوی وي.

له همدې دویم ډول نصوصو څخه یو هم هغه مبارک ایت هم دی چې الله تعالی په کې فرمایي: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا} [الأحزاب: 33].

له دې مبارک آیت څخه یو شمېر مفسرین داسې فهم اخلي چې د ښځو لپاره له کور څخه بیرون وتل اصلا درست نه دي، او وایي چې ښځه یا د کور ده یا د ګور ده، همدا خبره سعدي شیرازي په دې الفاظو کوي، وایي:

«ز بیگانگان چشم زن کور باد     چو بیرون شد از خانه در گور باد»[5].

دا يواځې يو پښتو متل نه دی، او نه يواځې د يو شاعر خبره ده، بلکې له همدې تصور څخه يو شمېر علماء هم اغيزمن دي، همدا د سعدي بيتونه په ځو مواردو کې په تفسير روح البيان[6] کې اسماعيل حقي هم نقل کړي دي، او د يو شمېر مفسرينو لکه جصاص رازي، قرطبی او داسې نورو څخه هم همدا ډول انګېرنه او تفسير نقل شوی دی، او نن سبا د نجونو د تعليم په اړه هم زيات شمېر خلک له همدې څخه استدلال کوي، تصور يې دا دې چې د تعليم او تعلم لپاره د نجونو او ښځو له کورونو څخه بهر وتل روا کار نه دی، ځکه ښځو ته په مطلق ډول په کور کې د پاتې کېدلو حکم شوی دی.

د دې خلکو تصور دا دی چې دا ايت کريمه په دې دلالت کوي چې د شرعي ضرورت[7] څخه پرته د کور څخه د ښځې بيرون وتل حرام دي، او بيا ضرورت څخه هغه شرعي ضرورت مراد اخلي چې د پرې نښودلو په نتيجه کې يې د انسان د ژوند او يا هم د هغه د کوم غړي د له منځه تللو خطر وي، او يا هم کوم قطعي فرض او شرعي مقصد يې له امله ترک کېږي.

حال دا چې د امت عامو علماو دريځ او عمل د دې ښکارندوی نه دی، ځکه د امت د علماو عام دريځ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زمانې څخه را په دېخوا د ټول امت تعامل دا وه چې ښځې د شرعي پردې په رعايت کولو سره د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر تللی، په بېلابېلو ټولنيزو فعاليتونو کې د ګډون او شخصي اړتياو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر وتلې، نو دې ته جدي اړتيا ليدل کېږي چې دا وځېړل شي چې اصل حقيقت څه دی؟ د دې ايت صحيح او درسته انګېرنه او تفسير څه دی؟ مفسرينو له دې څخه څه فهم کړي دي؟ نبوي احاديث او د امت معتمد علماء په دې اړه څه وايي؟ او د اسلامي امت تعامل په دې اړه څه پاتې شوی؟ غواړو په دې څېړنه کې دې او د دې په څېر نورو پوښتنو ته ځواب ووايو.

### د څېړنې د شاليد او ميتود په اړه

د قرآن کريم د تفسير په ډېرو کتابونو کې له دې امله د دې ايت د لومړۍ جملې تفسير ته ډېر پام نه دی شوی، ځکه چې په هغه وختونو کې د دې اړتيا نه ده احساس شوې، او يو شمېر مفسرينو چې دا قضيه بحث کړې هم ده هغوی غالبا د هغه اعتراضونو ځواب کړی چې د اهل تشيع علماو له پلوه حضرت عائشې رضي الله عنها ته متوجه شوي دي چې الله تعالی خو وايي چې {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } او حضرت عائشه رضي الله عنها د کور څخه بهر وځي او د لښکرو قيادت کوي؟ او د جنګ جمل مشري پر غاړه اخلي؟ د دې په ځواب کې مفسرين وايي چې د دې مبارک ايت دواړه جملې د يو مفهوم د بيانولو لپاره راغلي دي، او معنی يې دا ده چې په کور کې پاتې شئ، او د لومړي جاهليت د را ښکاره کېدو په څېر مه را ښکاره کېږئ، نو ښځو ته د لومړي جاهليت د را ښکاره کېدو په څېر را ښکاره کېدل او له کور څخه وتل نا روا دي، مطلقا را ښکاره کېدل او له کور څخه بهر وتل نا روا نه دي، بلکې هغه د اباحت اصلي د اصل سره سم مباح کار دی، خو که په بهر وتلو کوم فرض مرتب وي نو بيا دا را وتل اړين ګرځي، او که کوم نا روا ورسره يو ځای

---

[5] - بوستان باب هفتم در عالم تربيت ص ۳۷۸ د شيخ مصلح الدين سعدی شيرازی (په اومه پېړۍ کې ژوند کړی غالبا د ٦١٠ شا او خوا پيدا شوی او ٦٩٠ او ٦٩۴ ترمنځ وفات شوی) د بوستان دا نسخه «انتشارات ققنوس» نشر کړی، خيابان انقلاب، شهدای ژاندرمری، تهران، کال ۱۳۷۲هـ ش، د محمد علی فروغی تصحيح کړی نسخې پر بنسټ.

[6] - روح البيان (2/ 182) و (7/ 131) و (7/ 240) اسماعيل حقي بن مصطفى الاستانبولي الحنفي الخلوتي المولى أبو الفداء (ت ١١٢٧ هـ ق) طبع دار الفكر بيروت، لبنان، بدون تاريخ.

[7] - شرعي ضرورت يوه اصولي اصطلاح ده چې له امله يې انسان ته د حرامو ارتکاب روا ګرځي، لکه د مرګ له وېرې د مردار غوښه خوړل چې په فقهي قاعده کې داسې توضيح شوی دي «الضرورات تبيح المحظورات» د دې معنی به دا وي چې تر څو ښځه د مرګ د تهديد او يا هم د بدن د کوم غړي د له منځه تللو سره نه وي مخامخ شوي ، او يا په بهر نه وتلو کوم بل داسې فرض ترې نه فوت کېږي چې له دې څخه يې درجه لوړه وي، له دې ډول حالاتو پرته ښځې ته له کور څخه بهر وتل روا نه دي، فکر نه کوم چې دا ډول نظر کوم عالم ولري!.

شي(لکه بې پرده ګي او خلوت او داسې نور) بيا له کور څخه بيرون ته دا ډول راوتل نا روا ګرځي، دا حکم يوازې د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی نه دی، بلکې د ټولو مسلمانو ښځو لپاره هم همدا حکم دی، دا هغه قضيه ده چې په دې څېړنه کې څېړل شوی ده.

دا قضيه په دې څېړنه کې په استنتاجي او تحليلي ميتود څېړل شوی، په دې معنی چې په قرآن کريم کې يو ايت موجود دی چې هغه د {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ } څخه عبارت دی، د دې معنی څه ده، او د دې سم تفسير او تحليل څه دی؟ دا جمله دوه احتمالي معناګانې لري، يوه دا چې دا جمله دې مستقله وي، او ښځو ته دې مطلق امر وي چې په کور کې کښېني، نو په طبيعي توګه به د دې معنی دا وي چې بهر وتل ورته حرام دي، دويم احتمال يې دا دی چې د دې جملې تفسير په دويمه جمله کې بيان شوی دی چې د لومړي جاهليت د را ښکاره کېدو په څېر مه را ښکاره کېږئ.

خو دا لومړی معنی د احاديثو سره په ټکر کې ده، همدا راز د فقهاو د څرګندونو سره په ټکر کې ده، او د دې تر څنګ د امت د عمل سره په ټکر کې واقع ده، نو له دې څخه په ښکاره ډول څرګندېږي چې دا معنی مراد نه ده، ځکه که دا معنی مراد وی نو د امت تعامل به د دې تفسير او معنی خلاف نه وه، د فقهاو تصريحات به يې مخالف نه ؤ، او نه به احاديث د دې سره په تعارض کې واقع ؤ.

او دويمه معنی د تفسير د اصولو سره هم برابره ده، د احاديثو سره هم او د فقهاو او د اسلامي امت د اتفاقي دريځ سره هم اړخ لګوي، او د ټول اسلامي امت تعامل هم له همدې سره په توافق کې پاتې شوی، نو همدا معنی به مراد وي، ځکه دا نا ممکنه خبره ده چې که لومړی معنی مراد وی نو احاديث، د فقهاو اقوال او د امت دا اتفاقي دريځ دی د دې خلاف واقع شوی وی، نو له دې څخه همدا ثابتېږي چې دا دويمه معنی مراد ده او دا لومړی معنی اصلا د دې ايت معنی نه ده

وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك و نتوب إليك.

**لومړی: د ايت لفظي ترجمه**

الله تعالی فرمايي: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا} [الأحزاب: 33].

په خپلو کورونو کې ثابتې پاتې شئ، او د لومړي جاهليت د را څرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ، او لمونځ قائم کړئ، او زکات ورکړئ، او د الله تعالی او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړئ، ای اهل بيتو (د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيبيانو) يقينا الله تعالی غواړي چې له تاسې څخه ستاسې ګناهونه لرې کړي او تاسې په بشپړ ډول پاک کړي.

**دويم: د دې مبارک آيت قرائتونه او لغوي تحقيق**

د «قرن» په کلمه کې دوه متواتر قرائتونه شتون لري:

لومړی: د نافع او عاصم قرائت دی دوی «قَرن» د قاف په فتحې سره لولي.

دويم: جمهور «قِرن» د قاف په کسرې سره لولي.

**1- لومړی قرائت: «قَرن» د قاف په فتحې سره**

که قرائت «قَرن» د قاف په فتحې سره وي، نو د دې کلمې د اصل په اړه لاندې دوه نظرونه وجود لري:

لومړی توجيه: چې د قر يقر (د علم يعلم) د باب څخه وي، نو په دې حالت کې دا د امر صيغه ده چې اصل يې «اقررن» وه، نو يوه راء تخفيفا حذف شوه، او د لومړی راء فتحه (ځکه چې دا د علم يعلم له باب څخه دی) قاف ته نقل شوه، او کله چې لومړی حرف

متحرک شو نو د وصل همزې ته اړتیا پاتې نه شوه نو «قرن» شو، په دې حالت کې به د «قرن» صرفي وزن «فعن» وي، ځکه دویمه راء چې د لام کلمه ده حذف شوې ده، او دا ځکه حذف شوې چې په کلمه کې ثقل د همدې له امله رامنځته شوی وه، یو شمېر علماء وایي چې اصلا دویمه «راء» حذف شوې، ځکه کله چې د لومړۍ «راء» فتحه قاف ته نقل شوه، د ساکنینو د التقاء (چې دوه راء ګانې دي) له امله لومړی «راء» حذف شوه، نو په دې اعلال سره به د «قرن» صرفي وزن «فلن» وي، ځکه د عین کلمه یې حذف شوې ده.

مګر کله چې اعتراض دا وشو چې اصلي حرف خو کله نه حذفېږي، بلکې حرف علت حذفېږي، دلته «راء» د کوم قانون له مخې حذف شوې ده، نو مکي[8] او ابو علي[9] وویل «چې د ثقل له امله لومړی «راء» په «یاء» بدله شوه، نو فتحه یې ما قبل «قاف» ته منتقل شوه، نو د ساکنینو التقاء رامنځته شوه چې په نتیجه کې یې «یاء» حذف شوه».

په دې قرائت باندې المازني[10] اعتراض کړی چې «قر یقر» که د (علم یعلم) په وزن وي نو هغه د سترګو د یخوالي په معنی راځي، او په یو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی نه راځي، او کوم چې په یو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی راځي هغه د (ضرب یضرب) په وزن باندې راځي، او د هغه څخه د امر صیغه «قَرن» د قاف په فتحې سره نه شي راتللی؟

د دې اعتراض په ځواب کې أبو حیان په البحر المحیط کې د ابو عبیدة او الزجّاج او نورو څخه نقل کړي چې «قر یقر» که د «ضرب» له باب څخه وي او که د «علم» له باب څخه وي، دواړه په یو ځای کې د ثابت پاتې کېدلو په معنی راځي او دا په عربي ژبه کې ثابت دي، او علماء وایي چې مثبت حجت دی په نافي باندې، او (من علم حجة على من لم یعلم) نو که مازني ته د دې معلومات نه وي نو عدم علم په عدم وجود باندې دلالت نه کوي، نو بناء د مازني دا خبره درسته نه ده.

دویمه توجه: په دې قرائت کې دویمه وجه دا ده چې دا کلمه د «قار» «یقار» (د خاف یخاف له باب څخه) د امر د جمع مؤنث صیغه په اصل کې «اقیرن» وه، د یاء فتحه قاف ته نقل شوه، او یاء د ساکنینو د التقاء له امله حذف شوه، نو د وصل همزه هم له دې امله حذف شوه چې اړتیا ورته پاتې نه شوه ځکه د کلمې لومړی حرف متحرک شو، نو «قرن» شو. په دې قرائت به د دې کلمې معنی وي "اجمعن أنفسكن في بیوتكن"، ځکه قارة د جمع په معنی راځي، په همدې معنی بر اعظم ته قاره ویل کېږي ځکه هغه د ډېرو وچو مجموعه وي.

### 2- د «وقرن» دویم قرائت

دویم قرائت چې د جمهورو قرائت دی د «قاف» په کسرې سره دی «وقِرن»، د دې قرائت لپاره هم متعدد توجیهات شتون لري، چې په لنډ ډول یې په لاندې توګه وړاندې کوو:

لومړۍ توجیه: دا لفظ د «وقر» «یقر» څخه دی چې د «وعد» «یعد» په وزن دی، او هماغه اعلال په کې شوی چې د «وعد» په امر کې کېږي، یعنې اصل یې «اِوقِرن» وه، د کسرې نه وروسته واو ثقیل وه نو حذف شو، نو کله چې د کلمې لومړی توری «قاف» او هغه

---

[8] - نوم یې ابو محمد مکي بن أبي طالب القیسي (۳۵۵هـ ۴۳۷هـ) دا خبره یې په خپل کتاب مشکل اعراب القرآن ج ۲ ص ۵۷۷ کې کړې ده، تحقیق: دکتور حاتم صالح الضامن، چاپوونکی اداره: مؤسسة الرسالة، بیروت، دویم چاپ ۱۴۰۵هـ ۱۹۸۴م.

[9] - ابو علي الحسن بن أحمد بن عبد الغفار الفارسي، د عربي ژبې او نحوې امام، د ابن درید او ابو القاسم الزجاج په څېر شخصیتونو شاګرد او د ابن جني استاذ (۲۸۸هـ ۳۷۷هـ)، یو کتاب یې چاپ دی د الایضاح العضدي په نوم لومړی چاپ په کال ۱۳۸۹هـ ۱۹۶۹م، چې د. حسن شاذلي فرهود تحقیق کړی دی.

[10] - نوم یې ابو عثمان بکر بن محمد بن عدي بن حبیب البصیر المازني دی، مشهور نحوي او لغوي عالم دی، په استاذانو کې یې أبو عبیدة معمر بن المثنی، اصمعي، أبو زید الأنصاري او اخفش شامل دي، په شاګردانو کې یې د أبو العباس المبرد په څېر شخصیتونه شامل دي، د یو روایت پر بنسټ په کال ۲۴۷هـ کې وفات شوی دی.

متحرک وه نو د وصل همزې ته اړتیا پاتې نه شوه نو «قرن» شو. او معنی به یې په خپل کور کې د سکون او د وقار حالت غوره کول وي، یعنې په خپلو کورونو کې د وقار او سکون حالت غوره کړئ، چې معنی یې هماغه ده چې په خپلو کورونو کې پاتې شئ.

دویمه توجیه: دا د «قر یقر» (چې د «ضرب یضرب» په وزن دی) څخه د امر صیغه ده، او په دې کې هغه درې واړه توجیهات د تطبیق وړ دي چې د تیر قرائت په لومړۍ توجیه کې ورته اشاره وشوه، چې لومړی راء حذف شوی، که دویمه راء حذف شوی، او که راء په یاء بدله شوی او بیا حذف شوی لکه مکي او ابو علي چې وایي. په دې قرائت بیا هغه اعتراض هم نه واردېږي چې «المازني» په لومړي قرائت باندې درلوده، ځکه دا د عربي ژبې د مشهورې وجهې سره مطابقت لري[11].

**دریم: د ایت څخه نا سم فهم**

د ایت ظاهر په دې دلالت کوي چې د ښځو لپاره په کور کې پاتې کېدل فرض دي، او د فرضو مخالفت حرام دي، نو له کور څخه وتل حرام دي، او دا ځکه چې د (قرن) کلمه د امر صیغه ده، او امر د وجوب لپاره وي، همدا فهم یو شمېر خلک له دې ایت څخه اخلي او تصور یې دا دی چې ښځه باید په خپل کور کې محبوسه وي، او له کور څخه ورته وتل حرام دي، د بېلګې په توګه امام جصاص رازي وایي: «وَفِيهِ الدَّلَالَةُ عَلَى أَنَّ النِّسَاءَ مَأْمُورَاتٌ بِلُزُومِ الْبُيُوتِ مَنْهِيَّاتٌ عَنْ الْخُرُوجِ»[12].

په دې ایت کې پر دې دلالت دی چې ښځې په خپلو کورونو کې پر باقي پاتې کېدلو مأمورې دي، د بهر وتلو څخه منع[13] کړې شوي دي.

امام قرطبي مالکي وایي: «مَعْنَى هَذِهِ الْآيَةِ الْأَمْرُ بِلُزُومِ الْبَيْتِ، وَإِنْ كَانَ الْخِطَابُ لِنِسَاءِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَدْ دَخَلَ غَيْرُهُنَّ فِيهِ بِالْمَعْنَى. هَذَا لَوْ لَمْ يَرِدْ دَلِيلٌ يَخُصُّ جَمِيعَ النِّسَاءِ، كَيْفَ وَالشَّرِيعَةُ طَافِحَةٌ بِلُزُومِ النِّسَاءِ بُيُوتَهُنَّ، وَالِانْكِفَافِ عَنِ الْخُرُوجِ مِنْهَا إِلَّا لِضَرُورَةٍ، عَلَى مَا تَقَدَّمَ فِي غَيْرِ مَوْضِعٍ»[14]

د دې ایت مفهوم دا دی چې په دې کې په کورونو کې په باقي پاتې کېدلو امر دی، په دې ایت کې سره له دې چې خطاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازواج مطهراتو ته دی، خو نورې مسلمانانې ښځې قیاسا په دې کې شاملې دي، دا په دې صورت کې چې په دې اړه د نورو ښځو په اړه کوم ځانګړی دلیل وجود و نه لري، حال دا چې شریعت د داسې دلایلو څخه ډک دی چې په کورونو کې د ښځو د پاتې کېدو په لزوم باندې دلالت کوي، د ضرورت[15] څخه پرته د کورونو له وتلو څخه پر امتناع دلالت کوي، لکه په ډېرو ځایونو کې چې مې پرې مخکې بحث کړی دی.

---

[11] - د دې قرائتونو او د قرائتونو د توجیهاتو لپاره وګورئ: المحيط في التفسير (8/ 476_ 477) د ابو حيان محمد بن يوسف بن علي بن يوسف بن حيان أثير الدين الأندلسي (ت ۷۴۵هـ) ط. دار الفكر، بيروت، د چاپ کال ۱۴۲۰هـ تحقيق: صدقي محمد جميل. او الدر المصون في علوم الكتاب المكنون (9/ 120-121) د ابو العباس شهاب الدين أحمد بن يوسف بن عبد الدائم المعروف بالسمين الحلبي (ت ۷۵٦هـ) طبع دار القلم، دمشق، تحقيق: د. أحمد محمد الخراط. همدا راز وګورئ: روح المعاني في تفسير القرآن والسبع المثاني (11/ 187) د شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الآلوسي (ت ۱۲۷۰هـ)، تحقيق: علي عبد الباري عطية، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية- بيروت، کال ۱۴۱هـ. دې تفاسیرو ته د رجوع په وخت کې انسان ګوري چې په عبارتونو کې یو ډول اضطراب وجود لري.

[12] - «أحكام القرآن للجصاص» (3/ 471) تأليف: أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (ت ۳۷۰هـ)، تحقيق: عبد السلام محمد علي شاهين، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان، لومړی چاپ، کال ١٤١٥هـ/١٩٩٤م.

[13] - د منهيات په لفظ د «و لا تبرجن» لفظ ته اشاره کوي او هغه مقيده نهي ده، مطلقه نهي نه ده.

[14] - تفسير القرطبي مشهور په الجامع لأحكام القرآن (14/ 179)، مؤلف: أبو عبد الله، محمد بن أحمد الأنصاري القرطبي، تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، چاپوونکی اداره: ار الكتب المصرية – القاهرة، دویم چاپ، کال: ١٣٨٤ هـ - ١٩٦٤ م.

[15] - چې دې ته متوجه باید وه اوسو چې ضرورت یوه فقهي او اصولي اصطلاح ده چې مخکې مو د هغې معنی ته اشاره درلوده.

او حافظ ابن کثیر خو دا د آدابو او مستحباتو له جملې څخه ګڼي، د دوه دېرشم ایت په تفسیر کې وایي: «هَذِهِ آدَابٌ أَمَرَ اللَّهُ تَعَالَى بِهَا نِسَاءَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَنِسَاءُ الأمة تبع لهن في ذلك».

دا هغه ادبونه دي چې الله تعالی د پیغمبر علیه السلام ازواجو ته پرې امر کړی، او د امت نورې ښځې په دې کې د هغوی تابع دي.

بیا وروسته وایي:«وقوله تعالى: وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ أي الزمن فَلَا تَخْرُجْنَ لِغَيْرِ حَاجَةٍ، وَمِنَ الْحَوَائِجِ الشَّرْعِيَّةِ الصَّلَاةُ فِي الْمَسْجِدِ بِشَرْطِهِ»[16].

د «وقرن...» معنی دا ده چې په کور کې باقي پاتې شئ، او د حاجت او اړتیا څخه پرته بهر مه وځئ، او د شرعي حاجتونو څخه یو هم د شرطونو سره برابر په مسجد کې لمونځ هم دی.

همدا خبره د شهاب الدین الآلوسي[17] څخه او همدا راز د څه نورو علماو څخه هم نقل شوی ده، چې څه د امر دا صیغه په استحباب باندې حمل کوي او وايي چې استحبابا مسلمانو ښځو ته په کورونو کې پاتې کېدل په کار دي، او څوک یې په وجوب باندې حمل کوي.

که د علماو دا اقوال په استحباب باندې حمل شي او داسې وانګېرل شي چې د ښځې لپاره مستحب دا دي چې په کور کې پاتې شي او بهر ته ولاړه نه شي، نو دا به درسته انګېرنه وي، خو که دا په وجوب باندې حمل شي او تصور دا وي چې د شرعي ضرورت څخه پرته ښځه له کور څخه بهر نه شي وتلی نو له دې مبارک ایت څخه دا فهم یو داسې فهم دی چې د شریعت د نصوصو، د دې ایت څخه د امت د معتمدو علماو د فهم، د امت د عام تعامل او د اسلامي شریعت د طبیعت سره متصادم دی، له دې امله دا یو مرجوح فهم دی، د دې فهم تصحیح په کار ده، ځکه داسې یو فهم شریعت ته منسوبول په حقیقت کې د شریعت په اړه غلط او نا درست تصورات خپروي، او د شریعت د بدنامۍ لامل ګرځي.

**دا نا سم فهم مراد نه دی**

دا درسته خبره ده چې د ښځې د فعالیت او کار یو بنسټیز ډګر د هغې کور دی، په ځانګړې توګه کله چې واده شي او د کورنۍ څښتنه شي، ښځه باید د خپل کور څخه د کورنۍ د غړو لپاره د سکون او اطمئنان چاپېریال برابر کړي، د خپلو اولادونو په تربیت او روزنه بشپړ اهتمام وکړي، مګر د دې ترڅنګ هغه د خپلو اړتیاو د تر سره کولو لپاره همدا راز د ټولنیزو اړتیاو د سرته رسولو لپاره د کور څخه بیرون وتلی شي، او د یو انسان په حیث د خپلو اړتیا د پوره کولو لپاره، همدا راز د یو مسلمان په حیث د خیر په کارونو کې د ګډون لپاره له کور څخه وتل یو مباح عمل دی، مګر دا چې د دې وتلو سره داسې کوم مقصد اړه ولري او هغه د ښځو د ګډون پرته سرته نه شي رسېدلی په داسې حالت کې دا اباحت دا حکم د هغه مقصد سره سم تغییر خوري، لکه څرنګه چې د سد الذرائع او فتح الذرائع اصولي قاعده ده.

د همدې اصولي قاعدې سره سم له کور څخه دا وتل هغه وخت ناروا ګرځي چې کله ورسره نا روا کارونه یوځای شي، د بېلګې په توګه کله چې په لباس، حجاب او ظاهري هیئت کې د شریعت احکام رعایت نه کړي، نو بیا علماء په دې تصریح کوي چې دا کار یې

---

[16] - تفسیر القرآن العظیم مشهور په تفسیر ابن کثیر (6/ 363)، لیکوال: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (ت ٧٧٤ هـ) تحقيق: محمد حسين شمس الدين، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، منشورات محمد علي بيضون – بيروت، لومړی چاپ، کال: ١٤١٩ هـ.

[17] - روح المعاني فی تفسیر القرآن الکریم والسبع المثاني مشهور په تفسیر الآلوسي ج ١١ ص ١٨٧، دار الكتب العلمية، تحقيق: علي عبد الباري عطية، لومړی چاپ کال ١٤١٥هـ.

ناروا دی، هدف دا دی چې پخپله وتل ناروا نه دي بلکې کله چې په وتلو کې شرعي آداب رعايت نه شي هغه وتل ناروا دي، همدا د قرآن کريم د دې مبارک ايت مدلول دی، او همدا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صريحو احاديثو مدلول هم دی، او همدا د فقهاو او حنفي مذهب په شمول د اهل سنتو د ټولو فقهي مذاهبو د معتمدو علماو د تصريحاتو مدلول هم دی.

دا د اسلامي امت د معتبرو علماو دريځ دی چې «وقرن في بيوتکن» په ظاهر باندې حمل نه دی، بلکې د امت د ټولو معتبرو علماو له نظره له کور څخه د ښځو وتل يو مباح عمل دی، اوس د بل هر مباح عمل په څېر که له دې سره داسې څه نا روا کارونه يو ځای شي چې په شريعت کې جواز نه لري نو د دې مشکلاتو د تلازم له امله سدا للذريعة نا روا ګرځي، او که ناروا اعمال ورسره يوځای نه وي نو په خپل حالت روا او مباح پاتې کېږي، او که څه داسې مقاصد ورسره تړل شوي وي چې شرعا مطلوب وي، او د واجباتو له جملې څخه وي نو فتحا للذريعة دا بيرون وتل لازمي ګرځي تر دې چې په يو لړ حالاتو کې د مېړه نافرماني کول ورته هم جواز پيدا کوي، همدا خبره د دې مبارک ايت څخه معتبرو مفسرينو فهم کړې ده.

### د «وقرن في بيوتکن» په تفسير کې تفسيري اقوال

له همدې امله چې د احاديثو په ذخيره کې بې شمېره احاديث داسې دي چې د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره ښځو ته د کور څخه د بيرون وتلو په جواز دلالت کوي، او د اسلامي امت ټول تاريخ په دې دلالت کوي چې سره له دې چې يو شمېر ښځې استحبابا په کور کې پاتې کېدلې، چې «ذوات الخدور» يا «مخدَّرات» او يا «مخدورات» به بلل کېدلې، او نورې ښځې چې د کور څخه بيرون به يې کارونه کول هغوی ته «البرزة» ويل کېدلې، د فقهي احکامو په لحاظ د دې دواړو ډولو ښځو تر منځ تفاوتونه وجود لري، او دا تفاوتونه فقهاو رعايت کړي دي، د بېلګې په توګه د توکيل او شهادت په مسائلو کې د دې دواړو ښځو احکام سره متفاوت دي، په دې اړه تفصيلي احکام په د برهاني په محيط کې، په عالمګيري فتاوی کې، او په الدر المختار باندې د ابن عابدين شامي په حاشيه کې راغلي دي.

د دې دوه ډولو ښځو د تعريف په اړه ابن نجيم وايي: «الْمُخَدَّرَةُ فهي في اللُّغَةِ كما في الْقَامُوسِ من الْخَدْرِ كَالْإِخْدَارِ وَالتَّخْدِيرُ بِفَتْحِ الْخَاءِ الزام الْبِنْتِ الْخِدْرَ بِكَسْرِ الْخَاءِ وهو سِتْرٌ يُمَدُّ لِلْجَارِيَةِ في نَاحِيَةِ الْبَيْتِ وَهِيَ مَخْدُورَةٌ وَمُخَدَّرَةٌ ا هـ. وفي الشَّرْعِ هِيَ التي لم تَجْرِ عَادَتُهَا بِالْبُرُوزِ وَمُخَالَطَةِ الرِّجَالِ، قال الْحَلْوَانِيُّ وَالَّتِي تَخْرُجُ في حَوَائِجِهَا بَرَزَةٌ»[18].

المخدرة په لغت کې ـ لکه په قاموس کې چې راغلي ـ د خدر څخه اخيستل شوی، چې د خاء په فتحې سره لوستل کېږي، او د إخدار او تخدير په معنی باندې راځي (يعني ثلاثي مجرد او مزيد فيه ټول په يوه معنی راځي) لغوي معنی يې دا ده چې انجلۍ په پرده (خدر د خاء په کسرې سره) باندې ملزمه کړی شي، او خدر هغه پردې ته ويل کېږي چې د کور په يو اړخ کې اچول کېږي، دې ښځې يا انجلۍ ته «مخدوره» يا «مخدره» ويل کېږي، او په شريعت کې «مخدورة» يا «مخدرة» هغه ښځې يا انجلۍ ته ويل کېږي چې په عادي حالاتو کې بيرون نه وځي او د سړيو سره تعامل نه کوي، او حلواني وايي: او هغه ښځه يا انجلۍ چې د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره د کور څخه بهر ته وځي هغې ته «برزة» ويل کېږي.

---

[18] - البحر الرائق (7/ 145) زين الدين ابن نجيم (۹۲۶هـ ۹۷۰هـ) د چاپ ځای: دار المعرفة، بيروت، لبنان. همدا راز د دې اصطلاح لپاره وګورئ الفتاوى الهندية (3/ 335) د حنفي علماو د يوې مجموعې له لورې ليکل شوی، چاپوونکې اداره: دار الفكر، بيروت، د چاپ کال: ۱۹۹۱م ۱۴۱۱هـ ق. همدا راز وګورئ المحيط البرهاني في الفقه النعماني (8/ 41) او (8/ 465) د أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى: 616هـ)، تحقيق: عبد الكريم سامي الجندي، چاپوونکي اداره: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، لومړی چاپ: 1424 هـ - 2004 م. او په احکامو کې دا تفاوت نوی نه دی بلکې ابن عابدين يې د ابوبکر جصاص رازي څخه نقل کوي چې د څلورم قرن عالم دی، دې لپاره وګوئ: حاشية ابن عابدين (7/ 280) چاپوونکی اداره: دار الفكر للطباعة والنشر، د چاپ کال ۱۴۲۱هـ ۲۰۰۰م.

په الفتاوى الهندية کې وايي: «وَيُقْبَلُ تَعْدِيلُ الْمَرْأَةِ لِزَوْجِهَا وَغَيْرِهِ إذَا كانت امْرَأَةً بَرْزَةً تُخَالِطُ الناس وَتُعَامِلُهُمْ كَذَا في مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ»[19].

د سرخسي په محيط کې راغلي چې کله چې ښځه «برزة» وي او د خلکو سره خلط کېږي او تعامل ورسره کوي نو د خپل مېړه او نورو خلکو په اړه د هغې د عدالت ګواهي د منلو وړ ده.

همدا راز د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث چې وروسته به يې يادونه وکړو، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارک عصر څخه نيولى تر نن پورې د اسلامي امت تاريخ په دې شاهد دى چې ښځو د ژوند په بېلابېلو ميدانونو کې فعال حضور درلوده، د خپلو شخصي اړتياو لپاره په ټولنه کې موجودې وى، همدا راز يې په ډېرو ټولنيزو چارو کې ګډون درلود، که يواځې د صحيح البخاري د کتاب النکاح بېلابېل ابواب ملاحظه کړو د ډېرو بابونو د عناوينو په ترڅ کې دې ته اشارې لرې چې په ټولنيزو چارو کې د ښځو فعاليت او په فعاليتونو کې ګډون له کراهت څخه پرته جواز لري.

همدا راز هغه بېلابېل احاديث چې د غزواتو په جريان کې د ښځو له لورې د مريضانو او زخميانو تداوي[20] سرته رسېدل، د شهيدانو ښخول[21]، او لښکر ته د څښلو د اوبو راوړل، بلکې په بعضې حالاتو کې په جنګ کې ګډون کول د دې بېلګې دي.

د اسلامي تاريخ په اوږدو کې د داسې ښځينه عالمانو د شتون او فعال حضور په اړه چې د اسلامي او انساني علومو په وده کې يې لويه ونډه درلوده زموږ د رجالو او طبقاتو په کتابونو کې تفصيلي يادونه شوى ده، د بېلګې په توګه د امام ذهبي د سير أعلام النبلاء څخه يو لوى مجلد د هغه ښځو په اړه راټول شوى دى چې د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې مؤثرې او عالمې وى[22]، همدا راز د فقهاو په طبقاتو کې د ښځو يادونه شوى، د جرح او تعديل په کتابونو کې د محدثاتو ذکر راغلى دى.

که د دې مبارک ايت مفهوم هغه وى چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، نو بيا به حالت داسې نه وه، ځکه دا خو نا ممکنه خبره ده چې ټول امت دې د الله تعالى د حکم مخالفت وکړي، په دې معنى چې الله تعالى دې ښځو ته په کورونو کې د پاتې کېدو امر کړى وي او امت دې په دې التزام و نه لري، نو دا ثابته شوه چې د دې مبارک ايت معنى او تفسير هغه نه دى چې دا خلک يې ترې اخلي، او وايي چې ښځه يا د کور ده او يا هم د ګور، چې دا ظاهري معنى ترې مراد نه ده، نو معنى يې څه ده؟ په دې اړه مفسرين لاندې دوه نظرونه لريس:

---

[19] - الفتاوى الهندية (3/ 528) همدا مخکينى مصدر.

[20] - په مصنف ابن أبي شيبة - ترقيم عوامة (12/ 525) کې دا لاندې حديث لولو: عن حَشْرَجُ بْنُ زِيَادٍ الأَشْجَعِيُّ ، عَنْ جَدَّتِه أُمِّ أَبِيهِ ؛ أَنَّهَا غَزَتْ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَيْبَرَ سَادِسَةَ سِتِّ نِسْوَةٍ ، فَبَلَغَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم ، فَبَعَثَ إِلَيْنَا ، فَقَالَ : بِأَمْرِ مَنْ خَرَجْتُنَّ ؟ وَرَأَيْنَا فِيهِ الْغَضَبَ , فَقُلْنَا : يَا رَسُولَ اللهِ , خَرَجْنَا وَمَعَنَا دَوَاءٌ نُدَاوِي بِهِ ، وَنُنَاوِلُ السِّهَامَ ، وَنَسْقِي السَّوِيقَ ، وَنَغْزِلُ الشَّعْرَ ، نُعِينُ بِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ ، فَقَالَ لَنَا : أَقِمْنَ ، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ خَيْبَرَ ، قَسَمَ لَنَا كَمَا قَسَمَ لِلرِّجَالِ. دا د خيبر د غزا خبره ده چې د پيغمبر عليه السلام د غزواتو څخه د ورستنيو غزواتو له جملې څخه ده.

[21] - المعجم الكبير للطبراني (25/ 67) أُمَّ عَطِيَّةَ، تَقُولُ: «كُنَّا نَخْرُجُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُدَاوِي الْجَرْحَى، وَنَدْفِنُ الْقَتْلَى» په صحيح مسلم (3/ 1443) کې دا حديث لولو: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا، فَيَسْقِينَ الْمَاءَ، وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى»

[22] - جامع أخبار النساء من سير أعلام النبلاء (مع تراجم الجزء المفقود من السير) جمع وترتيب وتحقيق وتعليق: ابو عبد الرحمن خالد بن حسين بن عبد الرحمن، تقديم: فضيلة الشيخ مصطفى بن العدوي، مكتبة الرشد للنشر والتوزيع، المملكة العربية السعودية، الرياض، د چاپ کال ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م.

**لومړی نظر: د ازواج مطهراتو او نورو ښځو ترمنځ تفاوت**

یو شمېر مفسرین وایي چې دا مبارک ایت د ازواج مطهراتو په اړه وجوبا او د نورو مسلمانو ښځو په اړه استحبابا راغلی دی، علامه الطاهر بن عاشور د دې ایت په تفسیر کې وایي:«هَذَا أَمْرٌ خُصِّصْنَ بِهِ وَهُوَ وُجُوبُ مُلَازَمَتِهِنَّ بُيُوتَهُنَّ تَوْقِيرًا لَهُنَّ، وَتَقْوِيَةً فِي حُرْمَتِهِنَّ، فَقَرَارُهُنَّ فِي بُيُوتِهِنَّ عِبَادَةٌ، وَأَنَّ نُزُولَ الْوَحْيِ فِيهَا وَتَرَدُّدَ النَّبِيءِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خِلَالِهَا يُكْسِبُهَا حُرْمَةً. وَقَدْ كَانَ الْمُسْلِمُونَ لَمَّا ضَاقَ عَلَيْهِمُ الْمَسْجِدُ النَّبَوِيُّ يُصَلُّونَ الْجُمُعَةَ فِي بيُوت أَزوَاج النبيء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا فِي حَدِيثِ «الْمُوَطَّأِ» . وَهَذَا الْحُكْمُ وُجُوبٌ عَلَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ وَهُوَ كَمَالٌ لِسَائِرِ النِّسَاءِ»[23].

دا امر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهراتو پورې ځانګړی دی، چې دوی باید په خپلو کورونو کې مستقرې پاتې شي او بیرون ته ترې و نه وځي، او دا حکم د دوی د احترام له امله، او د دوی د حرمت د تقویت لپاره ورکړ شوی دی، نو د دوی له لورې په خپلو کورونو کې پاتې کېدل عبادت دی. د دوی په کورونو کې د وحي نازلېدل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تګ راتګ دې کورونو ته احترام او عزت وربخښي، له همدې امله کله به چې په مسجد نبوي کې ځای نه وه نو مسلمانانو به د ازواج مطهراتو په کورونو کې د جمعې لمونځ کاوه لکه د موطا په حدیث کې چې راغلي دي (چې دا د دې کورونو د حرمت او عزت دلیل دی) پر دې حکم باندې التزام پر امهات المؤمنین باندې واجب وه، او د نورو ښځو لپاره د کمال او استحباب درجه لري.

ابن عاشور دا خبره ځکه کوي چې اسلامي امت ټول په دې اتفاق لري چې د ښځې لپاره د کور څخه بیرون تلل مطلقا حرام نه دي، نو کله چې دا حرام نه دي، نو باید د عامو مسلمانو ښځو په اړه دا حکم په استحباب باندې حمل شي، او د ازواج مطهراتو په اړه باید په وجوب حمل شي، ځکه په دې توګه الله تعالی د دوی د احترام او عزت ساتلو ځانګړی اهتمام کړی، او د عامو مسلمانو ښځو لپاره ځکه په وجوب حمل نه دی چې په وجوب باندې د حمل کولو څخه داسې مشقت رامنځته کېږي چې تحمل یې ډېر مشکل دی، او موږ په شریعت کې داسې احکام لرو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره په وجوب حمل وي او د امت لپاره نفل او مستحب وي، لکه قیام اللیل او تهجدو لمونځ.

د ابن عاشور د دې تفسیر سره سم به دلته د امر صیغه (قرن) د مطلق طلب لپاره وي، چې دا طلب به د ازواج مطهراتو په حق کې جازم او قطعي طلب وي او د نورو عامو مسلمانو ښځو په حق کې به غیر جازم طلب وي، او په دې توګه به د نصوصو ترمنځ تعارض هم رفع شوی وي او د امت عام تعامل او د فقهاو فهم به هم د قرآن کریم د دې مبارک ایت سره برابر وي.

**دویم نظر: دا ایت د ښځو مطلق وتل حرام نه ګڼي**

د دې مبارک ایت دویم تفسیر دا دی چې په دې ایت کریمه کې د ښځو لپاره مطلق بیرون وتل نه دي حرام کړی شوي بلکې هغه وتل حرام ګرځول شوي چې د لومړي جاهلیت په څېر د شرعي ادابو د رعایت څخه پرته بیرون وتل دي، او دا ځکه چې ډېر مفسرین د ایت دویمه جمله د لومړۍ جملې لپاره تفسیر ګڼي، الله تعالی فرمایي: : {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا} [الأحزاب: 33].

---

[23] - التحریر والتنویر (تحریر المعنى السدید وتنویر العقل الجدیدمن تفسیر الکتاب المجید) (22/ 10) د محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي (ت: ۱۳۹۳هـ) چاپوونکې اداره: الدار التونسیة، تونس، د چاپ کال: ۱۹۸۴م. همدا خبره یې د صحیح البخاري لپاره په خپله شرح «النظر الفسیح عند مضائق الأنظار في الجامع الصحیح» (ص: 204) کې هم کړې ده، محمد الطاهر ابن عاشور، چاپوونکی اداره: دار سحنون للنشر والتوزیع - دار السلام للطباعة والنشر، لومړی چاپ، کال: 1428 هـ - 2007 م.

د دې ایت معنی به دا وي چې په خپلو کورونو کې پاتې شئ یعنې د لومړي جاهلیت په زمانه کې د را څرګندېدو په څېر مه را څرګندېږئ...دا دویمه جمله (ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الأولی) به د لومړۍ جملې (وقرن في بیوتکن) تفسیر وي.

ابن عرفه د (وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ) په اړه وايي: «الصواب أن تكون هذه الجملة في معنى الأولى مفسرة لها، فيكون أمرهن بملازمة البيوت ليس نهيا عن مطلق الخروج، بل عن الخروج المخالف للشرع، وهذا خروج التبرج»[24].

درسته خبره دا ده چې دا جمله د لومړۍ جملې په معنی ده، او د هغې لپاره تفسیر دی، نو ښځو ته په کور کې د پاتې کېدلو د امر معنی به په مطلقه توګه د کور څخه د وتلو نه منع نه وي، بلکې د هغه وتلو څخه به منع وي چې د شریعت سره مخالف وي، او د شریعت سره مخالف وتل د تبرج او د بې پرده ګۍ په حالت کې وتل دي.

همدا خبره په پوره صراحت سره شیخ محمد ثناء الله مظهري هم کوي، وايي: «امر بالقرار فى البيوت وعدم الخروج بقصد المعصية كما يدل عليه قوله تعالى وَلا تَبَرَّجْنَ فانه عطف تفسيرى وتأكيد معنى وليس فى الاية نهى عن الخروج من البيت مطلقا وان كان للصلوة او الحج او لحاجة الإنسان»[25].

{وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ} په کورونو کې د پاتې کېدلو او د ګناه په اراده د کور څخه د نه وتلو امر دی، لکه د الله تعالی وینا (ولا تبرجن) چې پرې دلالت کوي، ځکه دا (ولا تبرجن) (په وقرن في بیوتکن) تفسیري عطف دی، او معنوي تأکید یې دی، په دې مبارک ایت کې د کور څخه د مطلق وتلو نه منع نه ده راغلی و لو که د لمانځه، حج او انساني اړتیاو لپاره وي.

د قاضي ثناء الله مظهري صاحب خبره واضح ده چې په ایت کې دویمه جمله (ولا تبرجن...) د لومړۍ جملې (وقرن في بیوتکن) تفسیر او معنوي تأکید دی، نو د دې دواړو جملو معنی به دا وي چې د کور څخه په داسې توګه مه وځئ چې د لومړي جاهلیت د خلکو په څېر بې پرده او د بې حیایې په حالت کې را ښکاره شئ، او کله چې جمله کې قید وجود ولري نو نهي او نفي نفس فعل ته متوجه نه وي بلکې قید زائد ته متوجه وي، لکه کله چې ته ووايي: «ما رأيت زيدا راكبا» د دې معنی دا نه ده چې تا زید اصلا نه دی لیدلی، بلکې معنی یې دا ده چې تا هغه د سپرلۍ په حالت کې نه دی لیدلی.

همدا خبره امام الوسي هم کوي، هغه له کور څخه د مسلمانو ښځو وتل په دوه ډولو ویشي، یو هغه وتل دي چې ناروا او نادرست دي، او هغه د جاهلیت د زمانې په څېر له کور څخه وتل دي، او یو جائز، روا او مباح وتل دي چې هغه د شرعي آدابو سره د اړتیا لپاره وتل دي، هغه وايي: «وقد يحرم عليهن الخروج بل قد يكون كبيرة كخروجهن لزيارة القبور إذا عظمت مفسدته وخروجهن ولو إلى المسجد وقد استعطرن وتزين إذا تحققت الفتنة أما إذا ظنت فهو حرام غير كبيرة، وما يجوز من الخروج كالخروج للحج وزيارة الوالدين وعيادة المرضى، وتعزية الأموات من الأقارب ونحو ذلك، فإنما يجوز بشروط مذكورة في محلها»[26].

کله به ښځو ته وتل حرام وي، بلکې کله به دا لویه او کبیره ګناه وي، لکه هدېرې ته وتل چې مفسده یې ډېره لویه وي، او همدا راز د زینت، سنګار او عطرو سره وتل سره له دې چې جومات ته هم وي کله چې پرې یقیني فتنه مرتبېږي نو دا حرام او ګناه کبیره هم ده، خو که یقیني فتنه پرې نه مرتبېږي بلکې احتمالي فتنه پرې مرتبېږي نو بیا حرام دي، خو کبیره ګناه نه ده، او بل ډول وتل چې

---

[24] - تفسير ابن عرفة النسخة الكاملة (3/ 295) محمد بن محمد بن عرفة الورغمي التونسي المالكي، أبو عبد الله (ت: ۸۰۳هـ) تحقيق: جلال الأسيوطي، چاپوونکې اداره: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، لومړی چاپ، کال ۲۰۰۸م.

[25] - تفسير المظهري ج۷ ص ۳۴۱- ۳۴۲، د قاضي محمد ثناء الله العثماني الحنفي المظهري النقشبندي (۱۱۴۳هـ ۱۲۲۵هـ) تحقيق: أحمد عز وعناية، چاپوونکی اداره: دار احياء التراث العربي، بيروت ـ لبنان، لومړی چاپ کال ۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م.

[26] - روح المعاني في تفسير القرآن والسبع المثاني المعروف بتفسير الآلوسي (11/ 188) مخکیني مصدر.

روا دي لکه حج، د مور او پلار ليدلو لپاره وتل، د مريض د پوښتنې، په خپلوانو کې د مړي د تعزيت او داسې نورو کارونو لپاره وتل، نو دا په خپلو ځايونو کې د ذکر شوو شرطونو سره سم جايز دي.

### همدا د نبوي احاديثو مدلول هم دی

دا کوم فهم چې له دې مبارک ايت څخه دا مفسرين وړاندې کوي همدا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احاديثو څخه هم څرګندېږي، ځکه بې شمېره احاديث په دې دلالت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ازواج مطهراتو ته هم له کور څخه د وتلو اجازه ورکړې ده، چې دا احاديث بالطريق الاولی د عامو مسلمانو ښځو لپاره د کور څخه د وتلو په جواز دلالت کوي، همدا راز يې عامو مسلمانو ښځو ته د شرعي آدابو سره سم د کور څخه د وتلو اجازه ورکړې[27] او دا د بېلابېلو احاديثو څخه فهم کېږي، دا احاديث خو ډېر زيات دي، زه دلته يواځې د يو څو احاديثو په راوړلو اکتفاء کوم:

### لومړی حديث:

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: خَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ لَيْلًا، فَرَآهَا عُمَرُ فَعَرَفَهَا، فَقَالَ: إِنَّكِ وَاللَّهِ يَا سَوْدَةُ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَرَجَعَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ، وَهُوَ فِي حُجْرَتِي يَتَعَشَّى، وَإِنَّ فِي يَدِهِ لَعَرْقًا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَرُفِعَ عَنْهُ وَهُوَ يَقُولُ: «قَدْ أَذِنَ اللَّهُ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ»[28].

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: سودة بنت زمعة (أم المؤمنين) د شپې ووتله، نو حضرت عمر رضي الله عنه وليدله، او وه يې پېژندله، نو ورته يې وويل: په خدای چې ای سوده ته له موږ څخه پټېدلی نه شې! حضرت سودة رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او د دې خبرې يادونه يې ورته وکړه، او هغه (رسول الله صلی الله عليه وسلم) زما په کوټه کې وه د ماښام ډوډی يې خوړله، او په لاس کې يې يو هډوکې وه، نو الله پرې وحي نازله کړه (د وحي کيفيت پرې راغی) کله چې دا کيفيت ترې لرې شو، نو وه يې ويل: الله پاک تاسې ته اجازه درکړې چې د خپلو اړتياو لپاره (له کوره) ووځئ.

دا حديث امام بخاري د «باب خروج النساء لحوائجهن» کې نقل کړی دی، اشاره يې دې ته ده چې سره له دې چې ازواج مطهراتو ته د نورو ښځو په نسبت په کور کې د پاتې کېدو حکم مؤکد هم دی مګر هغوی ته هم د اړتيا په وخت کې له کور څخه د وتلو اجازه الله پاک ورکړې ده، نو نورې مسلمانې ښځې خو بالأولی د دې کار اجازه لري.

يو شمېر خلک د خلکو د غلطولو کوښښ کوي، او وايي چې دا حديث د حجاب څخه دمخه وه، او کله چې د حجاب ايتونه يعنې د الله تعالی دا وينا چې فرمايي: {وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ} [الأحزاب: 53] نازل شو نو په دې حديث کې د بهر وتلو حکم د ازواج مطهراتو په حق کې دا منسوخ شو، نو له دې څخه استدلال درست نه دی.

خو دا خبره درسته نه ده، ځکه د بخاري شريف په روايت کې په بل ځای کې د دې تصريح ده چې دا واقعه او په دې حديث کې د الله تعالی له لورې د اړتيا په وخت کې د بهر وتلو دا اجازه د حجاب د نزول څخه وروسته وه، «عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: خَرَجَتْ

---

[27] - صحيح البخاري (2/ 6)، په دې حديث کې د حضرت عمر د ميرمنې واقعه هم ده چې دا پيغمبر عليه السلام د وفات څخه وروسته وه چې د نسخې ادعاء ردوي، «لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ» او په صحيح مسلم (1/ 327) کې دا روايت چې عن ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ» خو شرط يې دا دی چې بې له عطرو به بيرون وځي لکه رسول الله چې فرمايي: «لا تمنعوا إماء الله مساجد الله وإذا خرجن فليخرجن تفلات»المنتقى من السنن المسندة لابن الجارود (ص: 91).

[28] - صحيح البخاري (7/ 38) د حديث شمېره: ۵۲۳۷، کتاب النکاح (باب خروج النساء لحوائجهن) لاندې نقل کړی دی، چاپوونکې اداره: دار طوق النجاة، د چاپ کال ۱۴۲۲هـ.

سَوْدَةُ بَعْدَمَا ضُرِبَ الحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفَى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ فَقَالَ: يَا سَوْدَةُ، أَمَا وَاللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِي كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ: فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ، فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي، فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا، قَالَتْ: فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ، وَإِنَّ العَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ، فَقَالَ: «إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ»[29].

د حدیث په دې روایت کې دا قضیه بالکل واضحه او څرګنده ده چې دا واقعه د حجاب د نزول څخه وروسته وه، په دې پورته حدیث کې دي چې «بعد ما ضرب الحجاب».

بله غلط فهمي چې څه خلکو ته پیدا شوی هغه دا ده چې دا واقعه او د حجاب د فرض کېدو واقعه یوه ګڼې، خو دا خبره هم درسته نه ده، بلکې دا بیله واقعه ده او هغه واقعه چې د حجاب د نزول لامل وګرځېده چې حضرت عمر په کې ویلي وو چې «عرفناک یا سودة» هغه بېله واقعه ده چې امام بخاري په کتاب الطهارة کې په باب خروج النساء الی البراز[30] کې نقل کړې دی.

د بخاري شریف ټول شارحین د دې حدیث لاندې د دې تصریح کوي چې د اړتیاو لپاره د کور څخه د ښځو وتل جواز لري او دا حدیث په دې خبره دلالت کوي، دلته یواځې د نمونې په توګه د یو څو شارحینو ویناګانې نقل کوم، ځکه د ټول څخه نقل د بې ځایه اوږدوالی لامل ګرځي، ابن الملقن وایي: «فیه دلالة على خروج النساء لكل ما أبيح لهن الخروج فيه، من زيارة الآباء والأمهات والمحارم وغير ذلك مما بهن الحاجة إليه، وذلك في حكم خروجهن إلى المساجد»[31].

دا حدیث په دې دلالت کوي چې د هغه ټولو کارونو لپاره د ښځو له کورونو څخه وتل روا دي چې دوی یې په اړه د وتلو اجازه لري، لکه پلرونو او مورګانو او خپلوانو پوښتنه او داسې نور کارونه چې دوی ورته اړتیا لري، او د دې ټولو حکم په روا والي کې همداسې دی لکه مسجد ته چې ښځه وځي.

ابن بطال د بخاري په شرح کې وایي: «فى هذا الحديث دليل على جواز خروج النساء لكل ما أبيح لهن الخروج فيه من زيارة الآباء والأمهات وذوى المحارم والقرابات، وغير ذلك مما بهن الحاجة إليه ، وذلك فى حكم خروجهن إلى المساجد . قال المهلب : وفيه جواز مكالمة المرأة من وراء الستر»[32].

په دې حدیث کې د دې دلیل شته چې ښځو د هر هغه څه لپاره د کورونو څخه بیرون وتل جایز دي چې شریعت ورته په کې وتل روا کړې دي، لکه د پلرونو، مورګانو او خپلو خپلوان لیدنه او زیارت، او داسې نور څه چې دوی ورته اړتیا ولري، او دا مسجد ته د وتلو په حکم کې دي، مهلب (د ابن بطال شیخ دی) وایي: د دې حدیث څخه دا هم ثابتېږي چې د پردې تر شا ښځې سره خبرې اترې هم روا دي.

[29] - صحيح البخاري (6/ 120) مخکینی مصدر، په کتاب التفسیر کې د سورت احزاب په تفسیر کې په «بَابُ قَوْلِهِ: {لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ...» کې د حدیث شمېره (۴۷۹۵).

[30] - صحيح البخاري (6/ 118) د حدیث شمېره (۱۴۶) ده.

[31] - التوضيح لشرح الجامع الصحيح ج ۲۵ ص ۱۴۵، ابن الملقن سراج الدين أبو حفص عمر بن علي بن أحمد الشافعي المصري (المتوفى: 804هـ)، چاپوونکې اداره: دار النوادر، دمشق – سوريا، لومړی چاپ، کال: 1429 هـ - 2008 م.

[32] - شرح صحيح البخارى ج ۷ ص ۳۶۴، لیکوال: أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك بن بطال البكري القرطبي (توفي عام ۴۴۹هـ)، چاپوونکی اداره: مكتبة الرشد - السعودية / الرياض - 1423هـ - 2003م، دویم چاپ.

مشهور حنفي عالم او فقيه امام بدر الدين عيني وايي: «فِي هَذَا الحَدِيث دَلِيل على أَن النِّسَاء يخْرجن لكل مَا أُبيح لَهُنَّ الْخُرُوج فِيهِ من زِيَارَة الْآبَاء والأمهات وَذَوي الْمَحَارِم وَغير ذَلِك مِمَّا تمس الْحَاجة إِلَيْهِ، وَذَلِكَ فِي حكم خروجهن إِلَى الْمَسَاجِد. وَفِيه: خُرُوج الْمَرْأَة بِغَيْر إِذن زَوجهَا إِلَى الْمَكَان الْمُعْتَاد للْإِذْن الْعَام فِيهِ»[33].

په دې حديث کې پر دې دليل شتون لري چې ښځې د خپلو کورونو څخه د هر هغه کار لپاره بيرون وتلی شي چې بيرون وتل ورته په کې روا وي لکه د پلرونو او مورگانو او خپلوانو د ليدلو او همداسې د نورو کارونو د سرته رسولو لپاره چې اړتيا ورته پيدا کېږي، او دا مسجد ته د ښځو د وتلو په حکم کې دي، حديث په دې هم دلالت کوي چې ښځه د خاوند له اجازې پرته هم داسې ځايونو ته تللی شي چې عادتا ورته ښځه ځي، ځکه په دې کې د مېړه عمومي اجازه وجود لري.

د بخاري شريف د شارحينو په عبارتونو کې چې د کومو اړتياو يادونه شوی ده، هغه يواځې د بېلگې په توگه ذکر شوي دي، اړتياوې په دې کې منحصرې نه دي، بلکې دا اړتياوې له يو وخت څخه بل وخت ته او له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته متفاوتې وي، بله دا چې دا اړتياوې يوازې فردي اړتياوې هم نه دي بلکې په دې کې ټولنيزې اړتياوې هم شاملې دي، په دې معنی که ټولنه اړتيا پيدا کړي چې يو شمېر ښځې په څه کارونو وگماري نو دا هم د اړتيا په مفهوم کې شامل دي او د دې لپاره به ښځو له کور څخه وتل جائز او روا وي.

**دويم حديث**

«عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ قَالَتْ: كُنَّا نَمْنَعُ جَوَارِيَنَا أَنْ يَخْرُجْنَ يَوْمَ الْعِيدِ، فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ، فَنَزَلَتْ قَصْرَ بَنِي خَلَفٍ، فَأَتَيْتُهَا، فَحَدَّثَتْ أَنَّ زَوْجَ أُخْتِهَا غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ثِنْتَيْ عَشْرَةَ غَزْوَةً، فَكَانَتْ أُخْتُهَا مَعَهُ فِي سِتِّ غَزَوَاتٍ فَقَالَتْ: فَكُنَّا نَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى وَنُدَاوِي الْكَلْمَى، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، عَلَى إِحْدَانَا بَأْسٌ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهَا جِلْبَابٌ أَنْ لَا تَخْرُجَ؟ فَقَالَ: لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، فَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَتْ حَفْصَةُ: فَلَمَّا قَدِمَتْ أُمُّ عَطِيَّةَ أَتَيْتُهَا فَسَأَلْتُهَا: أَسَمِعْتِ فِي كَذَا وَكَذَا؟ قَالَتْ: نَعَمْ بِأَبِي، وَقَلَّمَا ذَكَرَتِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم إِلَّا قَالَتْ بِأَبِي، قَالَ: لِيَخْرُجِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوْ قَالَ: الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ - شَكَّ أَيُّوبُ وَالْحُيَّضُ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَتْ: فَقُلْتُ لَهَا: آلْحُيَّضُ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، أَلَيْسَ الْحَائِضُ تَشْهَدُ عَرَفَاتٍ، وَتَشْهَدُ كَذَا، وَتَشْهَدُ كَذَا»[34].

حفصه بنت سيرين وايي: موږ به خپلې نجونې منع کولې چې د اختر په ورځ ووځي، نو يوه ښځه راغله او د بني خلف په ماڼۍ کې ميلمنه شوه، نو زه ورغلم، نو حديث يې بيانوه چې د هغه د خور (چې ام عطية نومېږي) خاوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په دولسو غزاگانو کې گډون کړی دی، او خور يې هم په شپږو غزاگانو کې ورسره وه، (نو خور يې وايي): موږ به مريضان پالل، او د زخميانو تداوي به مو کوله، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: که په موږ کې د چا څادر نه وي او و نه وځي ايا کومه گناه ورته شته؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه ملگرې دې ورته خپل څادر ورکړي، او د خير کارونو او د مؤمنانو د دعا مجالسو کې دې حضور پيدا کړي.

---

[33] - الكتاب: عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ۲۰ ص 309، ليکوال: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ)، چاپوونکی اداره: دار إحياء التراث العربي – بيروت، (منشورات محمد علي بيضون) لومړی چاپ، د چاپ کال ۲۰۰۱م ۱۴۲۱ هـ ق.

[34] - «صحيح البخاري» (2/ 22) مخکينی مصدر، کتاب العيدين، باب إذا لم يكن لها جلباب في العيد، د حديث شمېره (۹۸۰)

حفصه بنت سيرين وايي: کله چې ام عطية راغله نو زه ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه چې په دې اړه دې څه اورېدلي دي؟ هغې وويل: بلې زما پلار دې ترې قربان شي (هغې به اکثره چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ذکر کاوه دا به يې ورسره ويل زما پلار دې ترې قربان شي) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ځواني با پرده ښځې او يا يې وويل ځوانې او با پرده (ايوب په کې شک کړی) او په حيض کې مبتلا ټولې ښځې دې ووځي، او د خير کارونو کې د شتون پيدا کړي او د مؤمنانو د دعا مجالسو ته دې حاضرې شي، خو حائضې ښځې دې د مصلى څخه لرې اوسېږي، حفصه وايي ما ورته وويل: حائضې ښځې؟ ام عطيه وويل: (دا څه د تعجب خبره ده) حائضې ښځې عرفات او نورو نورو ځايونو کې نه حاضرېږي؟.

په دې حديث کې د «وليشهدن الخير» لفظ راغلی دی، يعنې د خير په کارونو کې دې شتون پيدا کړي، همدا راز «ودعوة المؤمنين» د مؤمنانو د دعا په مجالسو کې دې حضور پيدا کړي، په دې کې شک نشته چې دا امر د وجوب لپاره نه دی، مگر په عامه توگه د ښځو د کور څخه بيرون ته د وتلو اجازه ترې ثابتېږي.

همدا راز د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ام عطيه په غزاگانو کې شرکت کول او بيا د مريضانو پالل او د زخميانو تداوي کول دا ټول په ټولنيزو چارو کې د ښځو د گډون په جواز دلالت کوي.

**درېيم حديث: په واده کې ښځو گډون**

امام بخاري په کتاب النکاح کې يو باب ايښی دی چې عنوان يې دی «باب ذهاب النساء والصبيان إلى العرس» او دا لاندې حديث يې په کې راوړی دی، «عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أَبْصَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءً وَصِبْيَانًا مُقْبِلِينَ مِنْ عُرْسٍ، فَقَامَ مُمْتَنًّا، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ»[35].

چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څه ښځې او ماشومان وليدل چې له يو واده څخه راروان ؤ، نو له هغوی څخه د منني په پار ودرېده او وه يې ويل: «الله شاهد دی چې تاسې ماته تر ټولو خلکو زيات محبوب ياست».

شيخ الحديث محمد زکريا کاندهلوي صاحب وايي: حافظ ابن حجر وايي، د دې باب عنوان يې دا ځکه انتخاب کړی چې څوک دا گمان و نه کړي چې په واده کې په دې ډول گډون کول مکروه کار دی، نو وه يې غوښتل چې دا ثابت کړي چې دا کار له کراهت څخه پرته درست دی، همدا خبره علامه عيني هم کړی، او قسطلاني هم ورته اشاره کړی ده[36].

په دې اړه احاديث ډېر زيات دي چې راجمع کول يې يو لوی کتاب ته اړتيا لري، يو مصري عالم عبد الحليم ابو شقة يو کتاب ليکلی چې عنوان يې دی «تحرير المرأة في عصر الرسالة» ټول کتاب په شپږ ټوکو کې چاپ شوی دی، په دې کتاب کې يې يواځې د صحيحينو احاديث راجمع کړی دي چې د دويم جلد عنوان يې دی «مشارکة المرأة المسلمة فى الحياة الاجتماعية ولقاؤها الرجال»، او دا ټول مجلد په هغه احاديثو مشتمل دی چې په ټولنيزو کارونو کې د کور څخه بيرون د ښځو په گډون باندې دلالت کوي، په دې کې ډېر زيات احاديث او ډېر زيات واقعات ذکر کړي دي. شايد په ډېرو امورو کې د شيخ عبد الحليم ابو شقة سره توافق و نه لرم خو يواځې دا ويل غواړم چې په دې اړه ډېر زيات احاديث شتون لري چې دا ثابتوي چې مسلمانو ښځو په ټولنيزو فعاليتونو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کې په قوت سره گډون درلوده.

---

[35] - «صحيح البخاري» (7/ 25) مخکينی مصدر د حديث شمېره (٥١٨٠).

[36] - شرح تراجم أبواب البخاري ج ٥ ص ٥٤٦، کتاب النکاح د باب شمېره ٧٥،تحقيق: دکتور ولي الدين بن تقي الدين الندوي، چاپوونکی اداره: دار البشائر الاسلامية، بيروت، لومړی چاپ ١٤٣٣هـ ٢٠١٢م.

**د فقهاو تصریحات**

د فقهاو په اقوالو کې مې داسې کوم قول تر اوسه تر سترګو نه شو چې د کور څخه د ښځې وتل مطلقا ناروا وګڼي، څومره اقوال هم چې راغلي دي هغه د دې تصریح کوي چې د فتنې د وېرې له امله د ښځو وتل نا درست ګڼي، او یا یې هم له دې امله نا روا ګڼي چې څوک د شرعي پردې او حجاب رعایت نه کوي، او په دې کې خو شک نشته چې په بې پرده ګۍ سره او د شرعي سرحدونو څخه د تجاوز په صورت کې، او یا هم د داسې کارونو لپاره چې د ښځو لپاره اصلا روا نه وي د ښځو وتل ناروا او نا درست دي، مګر له دې پرته که څوک د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره له کور څخه بیرون وځي نو دا کار نا روا نه دی او نه د الله تعالی د دې مبارک قول سره په تضاد کې قرار لري چې فرمايي: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى} [الأحزاب: 33]

په دې اړه دلته یواځې د حنفي فقهې د کتابونو څخه یو څو عبارتونه نقلوم، کېدلی شي په آخر کې د استئناس به خاطر د نورو مذاهبو مختصر عبارتونه هم نقل کړم.

په هدایه کې مرغیناني صاحب وايي: د حج د فرضیت په بحث کې دا خبره د یوې قاعدې په توګه یادوي، وايي: «لأنه يباح لها الخروج إلى ما دون السفر بغير محرم»[37].

(د درې ورځو او درې شپو قید یې ځکه ذکر کړ چې) ښځې ته له دې څخه کم مسافه کې (چې د شرعي سفر مسافه نه وي) د محرم څخه پرته بیرون وتل روا دي.

همدا خبره ټول فقهاء کوي د بېلګې په توګه علامه علاء الدين کاساني وايي: «أنه يباح لها الخروج إذا لم يكن بين مقصدها ومنزلها مسيرة ثلاثة أيام»[38].

چې د ښځې د کور او هغه ځای چې هغه ورته د سفر اراده لري د درې ورځو مسافه نه وي (له دې څخه کمه مسافه وي) نو هغې د کور څخه وتل (د محرم څخه پرته) روا او مباح دي.

او ابن نجیم مصري وايي: «لِأَنَّهُ يُبَاحُ لَهَا الْخُرُوجُ إلَى مَا دُونَ ذَلِكَ لِحَاجَةٍ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ» په دې باندې په تعلیق کې ابن عابدین وايي: « أَيْ إذَا لَمْ تَكُنْ مُعْتَدَّةً وَرُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ كَرَاهَةُ الْخُرُوجِ لَهَا مَسِيرَةَ يَوْمٍ بِلَا مَحْرَمٍ فَيَنْبَغِي أَنْ تَكُونَ الْفَتْوَى عَلَيْهِ لِفَسَادِ الزَّمَانِ شَرْحِ اللُّبَابِ»[39].

ښځې ته د درې ورځو او درې شپو څخه په کمه مسافه کې د اړتیا په وخت کې له کور څخه وتل مباح دي د کوم محرم د مرافقت څخه پرته هم.

---

[37]- الهداية شرح بداية المبتدي ج 1 ص 133، د أبو الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغيناني (511هـ ـ 593هـ) خپروونکې اداره: المكتبة الإسلامية.

[38] - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج 3 ص 207، ليکوال: علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: 587هـ) خپروونکی اداره: دار الكتب العلمية

دويم چاپ، کال 1406هـ - 1986م.

[39] - البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (2/ 339) بحر الرائق د زين الدين ابراهيم بن محمد بن نجيم المصري (ت ٩٧٠ه) کتاب دی، او منحة الخالق د ابن عابدين شرح ده، او تكملة بحر الرائق د محمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري کتاب دی، چاپوونکی اداره: دار الكتاب الاسلامي، بدون تاريخ.

لِأَنَّهُ يُبَاحُ لَهَا الْخُرُوجُ إلَى مَا دُونَ ذَلِكَ لِحَاجَةٍ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ

ابن عابدين وايي: يعنې كله چې ښځه د عدت په حالت كې نه وي نو بيا د اړتيا په وخت كې د محرم د مرافقت څخه پرته له كور څخه وتلى شي چې مسافه له درې ورځو او شپو د سفر څخه كمه وي، د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف څخه يو روايت دا هم دى چې كه مسافه يوه ورځ وي نو د محرم څخه پرته ښځې ته له كور څخه وتل مكروه دي، او پكار دا ده چې د زمانې د فساد له امله فتوى په همدې قول وي لكه په شرح اللباب كې يې چې يادونه شوى ده.

تر دې چې امام بدر الدين عيني په دې اړه اجماع نقل كوي چې د ازواج مطهراتو څخه پرته د نورو ښځو لپاره د كور څخه وتل روا دي په دې شرط چې شرعي ادبونه رعايت كړي، او د هغه شرعي مخالفتونو څخه ځان وساتي چې د قرآن كريم په اصطلاح «د لومړي جاهليت د تبرج په څېر تبرج» بلل كېږي، هغه د بخاري شريف د كتاب التفسير د سورت احزاب په تفسير كې د دې باب لاندې چې: (بَابٌ قَوْلُهُ تَعَالَىَ: {لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النبيِّ إلاَّ أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ...) د حضرت سوده بنت زمعه د واقعې لاندې چې مخكې يې يادونه وشوه، وايي: «وَلَا خلاف أَن غَيْرهنَّ يجوز لَهُنَّ أَن يخْرجن لما يحتجن إِلَيْهِ من أمورهن الْجَائِزَة بِشَرْط أَن يكن بذة الْهَيْئَة خشنة الملبس تفلة الرّيح مستورة الْأَعْضَاء غير متبرجات بزينة وَلَا رَافِعَة صَوتهَا»[40].

په دې كې هيڅ اختلاف شتون نه لري چې د ازواج مطهراتو څخه پرته نورو ښځو ته روا دي چې د كور څخه د خپلو جايزو اړتياو د پوره كولو لپاره بهر ووځي، په دې شرط چې په زړو جامو كې به وي، كه لباس يې اغوستى وي نو بايد شډل وي، عطر به يې نه وي لګولي، د جسم غړي به يې پټ وي، ښكلا به يې ښكاره نه وي، او نه به خپل اواز اوچتوي.

د كوم حالت ذكر چې امام عيني كوي، د دې معنى دا نه ده چې په حرفي توګه دا د تطبيق وړ وي، خو اصل خبره هماغه ده چې د قرآن كريم په همدې ايت كې يې يادونه شوى چې موږ يې د فهم كوښښ كوو، چې الله تعالى فرمايي: {وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىَ} [الأحزاب: 33] نو كله چې ښځه د لومړي جاهليت د ښځو په څېر د خپل ډول او سنګار د څرګندولو كوښښ نه كوي[41] او د عزت او حشمت جامې يې په تن وي نو د خپلو روا اړتياو لپاره د كور څخه وتلى شي، او دا امت د عامو علماو نظر دى.

سره له دې چې كله ښځه واده شي د هغه لپاره د خپل خاوند اطاعت يو واجب امر ګرځي، او د كور او كورنۍ د حفاظت او ساتنې لپاره ښځه بايد په هره وړه او غټ خبره كې د خاوند څخه اجازه واخلي، او په دې اړه ډېر احاديث هم راغلي دي، خو د شريعت طبيعت پېژندونكي فقهاء په دې هم تصريح كوي چې يو لړ ټولنيز فعاليتونه داسې دي چې هلته د خاوند له اجازې څخه پرته هم ښځه له كور څخه بهر وتلى شي، په دې اړه چې كوم حالات په الموسوعة الفقهية الكويتية كې ذكر شوي دي، هغه د لوستلو وړ دي، كه څوك وخت لري نو هلته دې ورته مراجعه وكړي[42].

په دې اړه حنفي مذهب دا تصريح كوي چې د حدودو او قصاص څخه پرته په نورو ټولو قضيو كې ښځه قضاء كولى شي، او كمال ابن الهمام د دې علت داسې بيانوي: «وجه جواز قضائها وهو أن القضاء من باب الولاية كالشهادة والمرأة من أهل الشهادة فتكون من أهل الولاية»[43].

---

[40]- عمدة القاري شرح صحيح البخاري (19/ 177) أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: 855هـ) چاپوونكى اداره: دار الكتب العلمية، د محمد علي بيضوي د منشوراتو څخه، لومړى چاپ، كال: ۱۴۲۱هـ ۲۰۰۱م.

[41] - د دې جملې په تفسير كې مفسرينو ډېر اقوال نقل كړي دي، او د دې اقوالو په رڼا كې يې ددې جملې تفسير كړى دى.

[42] - الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۸ ص ۲۳۵، د بيت الزوجية تر اصطلاح لاندې يې دا عنوان ايښى دى «ما يجيز للزوجة الخروج من بيت الزوجية» چې د احنافو د معتبرو كتابونو ترڅنګ يې د نورو معتبرو فقهي مذاهبو څخه هغه حالات په ګوته كړي دى چې په كومو حالاتو كې ښځه د مېړه له اجازې پرته هم له كور څخه وتلى شي، سره له دې چې دا اصل دى چې د خاوند اجازه بايد ورسره وي، خو څه حالات داسې هم دي چې هغې پرته هم ورته وتل روا دي.

[43] - شرح فتح القدير (7/ 298) كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي (681هـ ق) چاپوونكى اداره: دار الفكر، بيروت ـ لبنان.

د قصاص او حدودو څخه پرته په نورو مجالاتو کې د ښځې د قضاء د جواز علت او دلیل دا دی چې قضاء د ولایت له جملې څخه ده، لکه ګواهي او شهادت، او ښځه د ګواهي اهلیت لري، نو بناء د ولایت وړتیا هم لري.

همدا راز د پیغمبر علیه السلام یوه صحابیه چې سمراء بنت نهیک نومېده او دره به یې په لاس کې وه او خلک به یې تأدیبول[44].

همدا راز د حضرت عمر بن الخطاب له لورې د الشفاء بنت عبد الله د ښار د کنترول لپاره مقررول[45] هم په دې دلالت کوي چې د خیر کارونو لپاره بهر ته د ښځو وتل شرعا کوم مانع نه لري.

د حنفي مذهب د تصریحاتو په څېر تصریحات د نورو فقهي مذاهبو په فقهي کتابونو کې هم شتون لري، چې له دې څخه دا څرګندېږي چې دا د امت یو اتفاقي دریځ دی، او هغه خلک چې په دې اړه تشدد کوي هغوی د احتیاط په نوم په خلکو هغه څه تحمیلول غواړي چې د اسلام د مزاج سره برابر نه دي.

**خاتمه**

اسلام د وسطیت دین دی، په هره قضیه کې اسلام دا وسطیت او اعتدال ساتلی دی، په دې قضیه کې هم همدا وسطیت چې د قرآن کریم، نبوي احادیثو او د اسلام د معتبرو فقهاو له اقوالو څخه څرګند دی، باید په پام کې ونیول شي، او هر څوک چې د قرآن کریم او د نبوي سنتو د غلط فهم او یا هم د سد الذریعې د اصولي قاعدې د غلط استعمال په نتیجه کې ښځه مطلقا په کور کې حبس کول غواړي، او د هر ډول ټولنیز فعالیت څخه یې منع کول غواړي، دا یو افراطي نظر دی، د اسلام د درست فهم سره سمون نه خوري، موږ په ډېرو قضیو کې د احتیاط په نوم هغه څه په دین ورتپل غواړو چې د دین د روح سره منافي وي، دا په حقیقت کې هماغسې ناوړه کار دی لکه اعتزالي فکر یا نوی اعتزالي فکر او یا هم نوپالان یې چې په منفي اړخ کې په اسلام ورتپل غواړي، تفاوت یواځې دومره دی، چې د خپل عقل پر بنسټ تلونکي احتیاط کاران د خپل عقل پر بنسټ هغه دائره نوره هم تنګول غواړي چې اسلام د انسانانو د ازادیو لپاره پرې ایښې ده، او دا عقل ګرایان هغه دائره د هغه حد څخه نوره هم پراخول غواړي چې اسلام ورته ټاکلی دی، چې دا دواړه کارونه درست نه دي، درست او صحیح دریځ هغه دی چې موږ د ازادیو او قیودو دائره په هماغه حد کې وساتو چې اسلام ټاکلی ده، همدا د اسلام وسطي فهم دی، او همدا د اسلام د معتمدو فقهاو د اسلامي فکر د تاریخ په اوږدو کې وړاندې کړی دی.

او هغه څوک چې ښځې ته د کور نه د وتلو په اړه د اسلام د مشروطې اجازې څخه ناوړه استفاده کول غواړي او له دې لارې د غرب د تمدن ناوړه اثرات په ټولنه مسلط کول غواړي، دا یو تفریطي نظر دی چې اسلام ورسره هیڅ ډول موافقت نه لري.

د اسلام درست او وسطي فهم هماغه دی چې د الله تعالی په دې مبارک قول کې یې یادونه شوې ده، چې فرمایي: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى} [الأحزاب: 33] په کور کې پاتې شئ، (او د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کور څخه وتلی شئ، خو کله چې له کوره وځئ نو) د لومړي جاهلیت د څرګندېدلو په څېر مه راښکاره کېږئ. یعنې د وتلو په وخت کې هغه شرعي اداب رعایت کړئ چې د پردې او احتشام په اړه په اسلام کې ټاکل شوي دي.

کله چې د دې مبارک ایت مفهوم دا شو نو هیڅ چا لپاره نه ښایي چې د دې مبارک ایت څخه نا درست استدلال وکړي او په مسلمانه ټولنه کې مسلمانه ښځه په مثبتو کارونو کې د ګډون څخه منع کړي، هو! دا د اسلامي نظام مسؤولیت دی چې داسې آداب

---

[44] - دا حدیث معجم کبیر کې طبراني ص ۲۴ ص ۳۱۱، کې او هیثمي په مجمع الزوائد ج 9 ص 428 کې نقل کړی او وایي رواه الطبراني و رجاله ثقات.

[45] - الآحاد والمثاني لابن أبي عاصم (6/ 4) تألیف: أبو بکر بن أبي عاصم وهو أحمد بن عمرو بن الضحاك بن مخلد الشیباني (المتوفی: 287هـ) تحقیق: د. باسم فیصل أحمد الجوابرة، چاپوونکی اداره: دار الراية – الرياض، لومړی چاپ، کال 1411هـ ق - 1991م.

او لوائح وضع کړي چې له لارې يې هغه بې بندوبارۍ کنترول کړي چې يو شمېر خلک يې په مسلمانو ټولنو کې ترويجول او خپرول غواړي، د يو نظام په حيث د قضيو سره تعامل له دې سره تفاوت کوي چې يو مفتي يا يو عالم يې په شخصي توگه ورسره کوي، فقيه، مفتي او عالم خو حالت گوري او د هغه مشخص حالت په اړه حکم صادروي، يا په د اصولیينو په تعبير په مشخص حالت د شرعي حکم تنزيل کوي، مگر د يو نظام مسؤوليت دا دی چې د شريعت د اصلي حکم د تطبيق سره چې کوم نادرست او ناروا کارونه يو ځای شوي دي، چې د دې ناروا کارونو له امله هغه قبيح لغيره گرځېدلی دی، او فقهاو ورته د همدې ناروا کارونو له امله پرې د ناروا حکم کړی دی، هغه ناروا کارونه منع کړي او اصل حکم پر خپل ځای د عمل وړ پاتې شي، او دا ځکه چې کومې آزادۍ چې اسلامي شريعت په اسلامي ټولنه کې خلکو ته ورکړ شوی دي که هغه په يو نوم او يا بل نوم سلب کړی شي نو دا هم اختناق او استبداد رامنځته کوي، نو علاج يې دا دی  چې اصل احکام چې په دې کې د اباحت يا آزادۍ حق دی هغه خلکو ته ورکړی شي او دا روا کار چې ناروا گرځوي هغه کارونه منع کړی شي، دا کار درست نه دی چې د دې ناروا کارونو له امله د خلکو ازادۍ هم سلب کړی شي، دا به اسلام نا درست او غلط فهم او تطبيق وي.

دا هم بايد په ذهن کې ولرو چې د فقهاو په کتابونو کې چې د کومو حالاتو يادونه شوی ده چې ښځه د هغې د سرته رسولو لپاره د کور څخه بهر وتلی شي، هغه يواځې د بېلگې په توگه ذکر شوي دي، او هر فقيه يې د خپلې زمانې د اړتياو په نظر کې نيولو سره يادونه کړی ده، دا اړتياوې له يوې زمانې څخه بلې زمانې ته متفاوتې دي، نو په کار ده چې په فقهي کتابونو کې يادو شوو صورتونو او حالتونو ته د مثال په سترگه وکتل شي، نه د حصر په سترگه، همدا راز اصل حکم ته وکتل شي چې د شرعي پردې په حالت کې مسلمانه ښځه شرعا اجازه لري چې د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره د کور د مشر په اجازه له کور څخه بهر ولاړه شي، او بيا د دې تعيين چې څه اړتيا بلل کېږي، په دې اړه خو بايد دا څرگنده وي چې له دې څخه شرعي ضرورت مراد نه دی، بلکې له دې څخه هغه انساني اړتياوې مراد دي چې انسان ورته اړ کېږي هغه که ضروريات وي، که حاجيات وي او که حتی تحسينيات هم وي، نو بناء دا اړتياوې له يوې زمانې څخه بلې زمانې ته او له يوې منطقې څخه بلې منطقې ته متفاوتې وي.

بله خبره چې بايد ورته متوجه وه اوسېږو هغه دا ده چې دا اړتيا به کله فردي اړتيا وي، او کله به دا ټولنيزه اړتيا وي، لکه زموږ د فقهې په پخوانيو کتابونو کې يې مثال «نفير عام» ورکړی دی، چې ښځه په دې حالت کې د مېړه اجازې ته هم اړتيا نه لري او وتلی شي، همدا راز نورې ټولنيزې اړتياوې پيدا کېدلی شي چې ښځه بايد د هغوی د پوره کولو لپاره بهر ته را ووځي، لکه په اوسنۍ زمانه کې په طبي او يا هم د اطفالو د تعليم په برخه کې د ښځو راوتل چې دا يو ټولنيزه اړتيا ده او دا ټول بايد په نظر کې ونيول شي.

د الله تعالی د دربار څخه لاس په دعا يو چې موږ ته د قرآن کريم د درست فهم توفيق راکړي، تر څو خپل ژوند د الله تعالی د شريعت سره په درسته توگه عيار کړی شو.